مترجم: عبدالکریم رحیم ۲۰۱۳/۰۷/۲۹

# د افغانستان جګړې (The Wars of Afghanistan)

لیکوال: پیټر ټامسین

پیټر ټامسین د ۱۹۸۹ نه تر ۱۹۹۲ کال پورې د سفیر په رتبه مجاهدینو ته د جورج ایچ ډبلیو بوش استازی و. څرنګه چې دی ډیپلوماټ او اکادمیشن دي دده معلومات په اسانه نه شي تردیدلی. نو له دی امله د خلیلزاد په باره کې دی چې دی څه وایي د امریکا د ادارې دننه معلومات دي.

زه پوهیږم چې حامد کرزی یو ډیر ابرومند او مهربان سړی دی. دی کلک مسلمان دی او د افغانستان خلکو ته متعهد دی، افغان وطنپال او په سیاست کې معتدل شخص دی....

د ۲۰۰۲ نه تر ۲۰۰۴ پورې د امریکا سیاست ته د حامد کرزي تسلیمیدل په ځانګړي توګه څرګند دي. د ۲۰۰۴ کال پورې دده سیاسی مقام نامطمئین و. دده دا ضعف د امریکا د ځینو عالیرتبه ماموړینو او جنرالانو له دې هیلي نشئات کاوه چې د امریکا تفوق اوڅار وي او افغانان د ځان وابسته کړي. او د ۲۰۰۲ کال د جون د میاشتې په لویه جرګه کې چې د افغانستان د موقت مشر د ټاکلو دپاره راغوښتل شوې وه دا وابستګي څرګنده شوه. هغه مهال افغان – امریکایي زلمی خلیلزاد د افغانستان په ارتباط د بوش د ادارې د سیاست اصلی چلونکی و. خلیلزاد یو مخکښ نوی محافظه کار دی. [د مترجم په عقیده نوي محافظه کاران چې د خپلو مفکورو په باره هر څه وایي ودې وایي خو دوی په بهرني سیاست کې امپریالیسټان، په مذهبي لحاظ صلیبیون او په کورني سیاست کې د شتمنو د ګټو ساتونکي او سوشل داروینسټان دي یعنی غریب لدې امله غریب دی چې بې کفایته دی.] ده د کشر بوش د ملی امنیت سلاکارې کوندولا رایس ته نیغ لاسرسی درلود [او کار یې ورسره کاوه]. خلیلزاد د جمهور د معاون ډیک چیني، ددفاع د وزیر دونالد رمسفیلډ او د هغه د مرستیال پال ولفوویچ سره له نژدې کار کړی و. ده د مقابلې نه باک نه درلود په داسې حال کې چې کرزی پاسیف سړی و. خلیلزاد پر ځان ډیر اعتماد درلود او د سپیني مانۍ په ملاتړ مطمئین و.

د ۲۰۰۲ کال د جون په ۱۰ نیټه د ۱۵۰۰ استازو له جملې ۹۰۰ کسه د لویې جرګې د انعقاد ځای ته نژدې غونډه جوړه کړه او د موقتي ادارې د مشرۍ د پاره یې د ظاهر شاه ملاتړوکړ. لویه جرګه باید د هغې ورځې په سبا جوړه شوې وی. هغه د ظاهرشاه د ستر سلاکار عبدالولی نه په یوه مصاحبه کې د بی بی سی خبریال پوښتنه وکړه چې که د پخوانی پادشاه څخه وغوښتل شي نو دی غواړي چې په خپل هیواد کې د زعیم په توګه نقش ولوبوي. عبدالولی وویل دا تصمیم د افغانستان د خلکو پورې ارتباط لري. پاچا به هغه څه وکړي چې افغانان یې غواړي. د بی بی سی اکثرو اوریدونکو ته دې خبرې دا معنی درلوده چې پاچا بیرته خپل تخت باندې کښیني. کرزي او خلیلزاد په دې عقیده وو چې د ظاهر شاه نقش یوازی د کرزی واکمنی ته مشروعیت ورکول وو، نه دا چې کرزی د صحنې وباسي. ظاهر شاه به د "ملت بابا" وي او یوازې تشریفاتي نقش به لوبوي. د [سردار]عبدالولی دا څرګندونه چې ظاهر شاه چمتو دی چې په لویه جرګه کې د ملت تصمیم ومني کرزي ددې اطمینان نه بې برخې کړ چې دی به د موقتي ادارې مشر شي. په واقعیت کې په لویه جرګه کې د استازو د اکثریت رایه په ډیر احتمال (seemed probable) دا وه چې ظاهر شاه دې د مشر په توګه وټاکل شي. د جرګې غونډه باید د جون په ۱۱ نیټه جوړه شوې وی.

د توقع خلاف د جون په ۱۰ نیټه د لویې جرګې استازو ته وویل شو چې پروګرام تغیر وکړ. د جون یولسمه چې د جرګې د پرانستلو نیټه وه په تعویق واچول شوه. د ډیرو لیدلی حال شاهدانو په وینا خلیلزاد عبدالولی ته د پاچا په استوګنځې کې وویل دده څنګه دا خبره [بی بی سی ته] کړې. ده د عبدالولی نه وغوښتل چې ظاهر شاه به د خبریالانو په مخکې یوه بیانیه لولي او په هغې کې به وایي چې دی د موقتي دورې مشرۍ ته کاندید نه دی. عبدالولی د خلیلزاد فشار ته تسلیم شو. د هماغې ورځې په مازیګر یو په منډه جوړ شوې مطبوعاتی کنفرانس ته پاچا د کرزي د ټیم [یا د خلیلزاد د ټیم] له خوا لیکل شوې بیانیه ولوستله. په داسې حال کې چې خلیلزاد یې څنګ کې ناست و ظاهر شاه دا بیانیه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي په کي ويل شوي وو چي دی د انتقالي دوری د مشری مقام ته کانديد نه دی ولوستله. په دې ارتباط مطبوعاتی وينا هم د کرزي [خليلزاد] ټيم ليکلي او رسنيو ته ورکول شوه. دا وينا د لويې جرگې په غړو هم وويشل شوه او کورنيو او بهرنيو رسنيو ټولي نړۍ کي خپره کړه. په سبا يې جرگه بې له کومې مهمې پېښې پرانستل شوه او څو ورځې وروسته حامد کرزی د موقتي دورې مشر منصوب شو.

په ښکاره ډول د افغانستان د مشرتابه په ټاکلو کي د حامد کرزي په گټه د امريکا مداخلې هغه ډېره نادره موقع له منځه يوړه چي هغه د افغانانو په لاس د داسي مشر ټاکل وو چي د بهرنيانو لاسپوڅی و نه گڼل شي. د جرگې بهير مرعوب ښکاريده. او د جرگې وروسته ډېرو استازو شکايتاً وويل چي دوی پرې نښودل شو چي کوم مشر چي دوی غوښته انتخاب کړي. يو ځل بيا بهرنيانو، او دا ځل امريکايي بهرني، د افغانانو پر ځای د هغوي د مشر د ټاکلو تصميم نيولی ونيو. درې مياشتي وروسته په ډِلهي کي د افغانستان سفير مسعود خليلی [چي شورای نظار ته ډېر نژدې و] ماته وويل: "د ۱۵۰۰ استازو له جملې ۱۰۰۰ استازې چي بيرته خپلو ځايونو ته لاړل هلته يې ويل چي لويه جرگه غيرعادلانه وه د جرگې نتايج د امريکا له خوا غوره شوی وو. " په دې ټاکنه کي د امريکا لاسوهنی دا اعتقاد نور هم قوي کړ چي کرزی د امريکا گوډاگی دی.

خليلزاد د ملی امنيت شورا نه تبديل شو او د ۲۰۰۳ کال په نومبر کي د فين پر ځای [په کابل کي د امريکا] سفير شو. د خپلي دندی په وخت ده د افغانستان د پاره د زياتي نظامی او اقتصادي مرستي غوښتنه وکړه او په دې کار بريالی هم شو. خو په عمومي توگه د خليلزاد مداخلوی کاری سبک د امريکا اوچتيا او د افغانستان وابستگي لا زياته کړه. يو امريکايي ژورناليست چي د طالبانو د پښو غورځيدو وروسته يې د افغانستان په باره کي ډېر خبري راپورونه ورکول وويل:

خليلزاد د سفير برسيره ډېر نور کارونه کول. امريکايي ډيپلوماټانو دی ددې هيواد د عمومی امر(chief executive) په توکه گاڼه. دده په ۱۹ مياشتني سفارت کي کرزی هسې تش په نامه رئيس و.

د خليلزاد په خپله وينا ده به اونی کي شپږ ماښامه د جمهوری رياست په ماڼی کي ډوډۍ خوړه. په قصر کي به ده د کرزي او د هغه د مشاورينو سره د شپې تر ناوخته پورې جلسې درلودې. هغه وخت د خليلزاد د مداخلې پرته کرزي هيڅ مهم تصميم نه شو نيولی. امريکايي ډيپلوماټانو ويل چي کله به داسي هم وو چي خليلزاد به په فشار ( cajoling an prodding) کرزی تصاميمو نيولو ته اړ ايسته.

يو سابقه لرونکي غربي ډيپلومات وايي:"د خليلزاد برخورد د کرزي موقف په بنسټيزه توکه ضعيف کړی و. ډېرو افغانانو کرزي ته د امريکا د گوډاگي په سترگه ليدل. او دې کار د کرزي مشروعيت له منځه وړی و."

نوټ: ددې مبحث پاتی برخه د کرزي د حکومت د استحکام او ثبات په باره کي جريانات دې چي محترم لوستونکي يې په دې کتاب کي لوستلی شي. ۶۴۰ – ۶۴۳ مخونه

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ